مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۱۲/۲۳

# غزل

کنډر وطن به بیا ودان کړمه که سوله راشي
ترینه به جوړ جنت نشان کړمه که سوله راشي

د خندا شور به خپروم د خاموشیو چم کي
مستي به بیا یو ځل د ځان کړمه که سوله راشي

محبتونه به په ماتو زړونو وویشمه
کرکه به ورکه له انسان کړمه که سوله راشي

د درد له ځړیکو به نغمه د خوشحالۍ جوړوم
خوښي به خپله یاقربان کړمه که سوله راشي

د پسرلي له رنګینیو به غزلي لیکم
راتول به واړه شاعران کړمه که سوله راشي

مصطفی پسرلی
22/12/2018


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ